کولي په همدې کې الله تعالي يوځل بيا پر يهوديانو رحم وکړ او يوځل يې بيا دپيغمبرانو لړۍ په کې پيل کړه ددوي دپيغمبرانو له ډلې څخه يو هم دانيال عليه السلام دانيال په شخصيت او کړو وړو کې يوسف عليه السلام ته ورته وو او له ده سره يې ژورمشابهت درلود دبني اسرائيلو دا دواړوو پيغمبران په لومړي يو شپو ورځو کې غلامان وو بيا ددوي پردي هيواد ته له کوچيدو وروسته الله تعالي د دوي روحاني اوبدني تربيت وکړ تردي چې له پيغمبرۍ سره سره يې دوي لوړو مرتبو ته هم ورسول الله تعالي دواړو ته دخوبونودتعبيرولو علم ورکړ له دي وروسته به باچا خپل خوب دانيال عليه السلام ته وړاندي کړي ددې خوب تعبير کې بيلابيلوزمانودولتونه دپيل اوپاي اړوند وړاندويني پيشگوياني پره تي وي په دي کې چې دکومي وړاندويني اړيکه زموږدزماني له کوم هيواد سره ده دهغه نوم دکرکې دولت اودګناهونو هيواد دي کله چې دغه ګناهګار هيواد جوړشي نودنړۍ پاي به پيل شي اوپه دي زمانه کې به دډېروګناهونوله امله داپيلامه دخپلې پاي لوروغورځوي په همدې ورته مهال کې به دوه لوړروحاني شخصيتونه امام مهدي اوعيسي عليه السلام او دوه ستري فتني دجال اوجوج ياجوج راڅرګند شي ددنيال عليه السلام په وړاندوينه کې چې زموږله کومي برخي سره کارده هغه دادي شمالي پاچاله لوري به لښکري تياري شي اوهغه به عزتمنده اوپاکه قلعه ناپاکه کړي هغه به ورځنۍ قرباني له خلګووا خلي اوهلته به دکرکې دولت بنسټ کيږدي په دي عبارت کې له دعزتمندي اوپاکې قلعه څخه مسجداقصي ديهوديانوقبضه اوهلته دخنځيرله سمبو سو سره د شرابوڅښاک مراد دورځنيوقربانيوله اخستلو څخه مطلب دادي چې پرلمانځه به پابندي ولګوي له ورځني قربانۍ څخه عبادت مراد دي ځکه چې لمونځ هره ورځ اداء کيږي په داسې حال کې چې قرباني هره ورځ نه ترسره کيږي ده کرکې دولت څخه چې پرالقدس يروشلم به قبضه وشي دلته به يو ګناهګار هيواد اباد شي له دي څخه اوسني اسرائيل مراد دي اوس پوښتنه داده چې دا هيواد به څرنګه رامنځ ته شي کړني به يې څه وي لښکربه له هغه سره مرسته وکړي مقدس ځاي به ناپاکه کړي تلپاتې قربانۍ به بندي کړي ويجاړوونکي مکروه شيان به نصب کړي اودسپيڅلي واکمنۍ پرخلاف شرير خلګ به بي دينه کړي خورب پېژندونکې به ددې مقامت وکړي اويوڅه به وشيي دکرکې دولت مرستندويې لښکري امريکا اوانګلستان دي دويجاړوونکې مکروه شي له نصبه ولو څخه دمسجداقصي پرځاي د شاهي ماڼۍ جوړول مراددې اود شريرانو له بي دينه کولو څخه موخه داده چې عسوي نړۍ به خطاکړي دوکه به ورکړي اودصهيوني موخه دبشپړاوي لپاره به کاروي لکه مخته موږتېره

لیکنه کې تاسو ته دصهیوني تعریف معني ذکر کړیې ده درب پېژندونکو له ښودلو څخه مراد ده فلسطیني فدایان او استشهادیانو یې ساري بیلګي ته اشاره ده او داده رب العالمین پروړاندي دمظلوم اولس تېپونه ته دمرهم پتۍ ده دغه دولت به کله رامنځ ته شي دازموږ دهمدې بحث مهمه پوښتنه ده موږ پردغه موضوع ده څوعلماءکرامو دتشریحاتو له مخي غوره کوود تحقیق حواله به یې راتلونکې کې راشي دانیال علیه السلام فرمایي مادوه سپیڅلي غیبي غږونه واوریدل دامعامله به ترکومه پوري همداسې روانه وي چې کوربه او سپیڅلي ځاي به ترپښولاندي کړي په دي کې دوهم غږ ورته ځواب کې وویل دالړۍ به تر2300ورځو پوري روانه وي بیابه دغه مقدس او سپیڅلي ځاي پاک شي له دي وړاندويني داسې معلومېږي چې دغه دولت به 2300کاله وروسته جوړېږي اوس دامعلومه نه ده چې دغه دولت به 2300کاله وروسته دابه درته مخکې په ډاګه کړو مخکې اخري وړاندوینه را اخلوچې له هغي داسې ښکاري چې دغه دولت به له پنځه خلوېښتو ورځوو روسته له منځه ولاړه شي ترهغه امام مهدي تذکره نه بشپړېږي چې حارث او منصور ورسره ذکر شوي نه وي امام ابوداود رح په خپل سنن کې یوحدیث رانقل کړي له هلال ابن عمرو څخه روایت ده چې ماله علي رض څخه داخبره واوریده چې رسول الله ﷺ وفرمایل یو شخص به له ماوراءالنهر څخه راشي هغه به حارث الحرث بزګر بولي دهغه دلښکر دلومړي تولي ماموریت به دمنصور نومي شخص پرغاړه وي چې دال محمد دخلافت مسلي لپاره به داسې لاره هواروي یابه یې پیاوړي کوي لکه ده قریشو چې رسول الله ﷺ ته ځاي ورکړي وو بس هرمسلمان ته پکاردي چې ددې لښکر مرسته او تایدوکړي یایې دا وفرمایل چې پرهرمسلمان واجب دي چې ددې شخص اطاعت وکړي.

## حارث او منصور

حارث او منصور دوه لقبونه دي دوه مسولیتونه دي دوه ستر خدمتونه دي چې ښاغلي به یې ددبن لوړاوي په خاطر پرغاړه اخلي کله چې اووه علماءاکرام امام مهدي دخلافت قبلولو ته چمتو کړي او پرجهاد بیعت واخلي نو ترټولو لومړي به امام مهدي له نړیوال کفرڅخه هم مخکې له هغو کسانو خطره احساسوي چې په غفلت دنیاپرستۍ اوفتنه کې مبتلا شوي یاد احادیثو تطبیق یې په دي وخت نه وي کړي له دي لاري یې دجهادي مشرانو انکار کړي دي له دي څخه مخکې به امام مهدي نه کومه ډله ټپله اړنه کوم تحریک تنظیم لري بلکې هغه ته به دخپل ځان په اړه هم معلومه نه وي چې زه امام مهدي یم نو یواځ دغه غریب بیوزله

اومسافرشخص به وي اوله ده سره داووه علماءکراموپه شمول د دوي منونکي کسان وي له دي ځومحدودوکسانوپرته به يې خپل هم سخت مخالف وي امام مهدي چې کوم شي ته اړتيالري دهغي لپاره به الله تعالي ج دوه داسي کسانوته توفيق ورکړي چې يوبه يې مالي چاري پرمخ وړي اوبل به يې دنظامي مرستوانتظام کوي لومړي شخص ته په احاديثوکي حارث يعني بزګر اودهقان ويل شوي اوهغع به دکښت اوکرپه وشيله دبزګرانوپه شان هلي ځلي کوي پيښي به ګټي اوهغه به دامام مهدي په خدمت کې حاضروي اوله دي لاري به دالله تعالي په لاره کې دصدقي هغه تګلاره راژوندۍ کړي چې دصحابوو خواږه سنت دي دوهم شخس ته دنښي په توګه ده منصورياني هغه شخص چې له چا سره غيبي مرسته و شي نوم ورکړل شوي وي په حديثوکې له امام مهدي سره دحارث اومنصورپرته دهغواووه علماءکراموياددونه هم شوي ده چې ملګري به يې له دريوسووکسانوځخه لږزيات وي لنډداچې دامام مهدي ترراڅرګند يدومخکې به دوه داسې اشخاص هغه لپاره لاره هواره کړي اوله دي لاري به دمسلمانانودزړونومرهم شي اوداسلام اومسلمانانودغلبي لپاره به يوزيري وګرځي.

## ځومهمي خبري

له دي ضميمي وروسته تقريباً موضوع بشپړيږي خوپه پاي کې ځوخبروته ستاسوپاملرنه راګرځوو ځيني کسان داسې فکرکوي چې پر دي موضوع بحث ته څه اړتياوه ماته هم په همدې لړکې زيات شک وو خوددې ځواب مي ددې موضوع په سرکي وړاندي کړيې ده چې إن شاء الله هيڅ نقصان به نه کوي البته فايده به يې ضرور وي نقصان به يې إن شاء الله هغه چاته نه وي چې غواړي ددرواغجنومدعيانونښي ځان ته معلومي کړې که ځوک دغه مضامين ولولي إن شاء الله پر ځاي د ي چې د درواغجنو مدعيانو په دام کې ولويږي د هغوی مخالفت به وکړي د دې موضوع دفايدي يوه څنډه به داوي که ده امام مهدي زمانه رانږدې وي نودا سلامي امت نيکان بندګان به ددې لپاره تياري نشي دمجاهدينوزغم به نورهم زيات شي نهيلي خلک به هيله مندشي که مسلمان دغه موضوع په پام کې ونيشي که دمهدي زماني ته ورسيږي اوکه نه خوکه دهغه ملګروته لاره هواره کړي نوايا له دي څخه ستره نيکمرغي به بله پيدا سې مولاناروم رح په يوه مثنوي کې فرمايي صوفيان نوروخلکوته داسې وايي چې مرګ رانږدې دي ځان چمتوکړۍ فيلسوفيان بياوايي له شپيته اوياکالوڅخه مخکې مرګ نسته بيړه مه کوه داخوداسې شوه لکه يو زړه خوږي سړي چې مسافرلاروي ته ووايي په لاره کې اوبه نشته له ځان سره لوښي کې اوبه يوسه بل ورته وايي پرځان بوج زياتول څخه معني لري په لاره کې به

اوبه پیدا کړي اوس احطیاط په څه شي کې دي په دې کې چې مرګ رانژدي دی باید په لوښي کې اوبه درسره واخلي که ژوندوفاوکړه په لاره کې اوبه درغلي هغه به استعمال کړي دادرسره ذخیره کیږده کنه نوله تندي خوبه نه مړکیږي همدې دجال یادونه کیږي نوپه احادیثوکې دمهدي عیسی علیه السلام اودجال یادونه کیږي نوله دې داسې ښکاري چې اوس څوارلس سوه نهه ویشت کاله تېرشوي دي نودهغه دراڅرګندیدووخت نږدې شوي دي موږ ډیره سهوه کووا او په موږکې ډیرخلګ پردي نه پوهیږي چې امریکا ډیرمذهبي خلګ دي دخپل مذهب اودین لپاره ډیرې هلې ځلې کوې هغوی له موږ څخه ډیرمسیح یادوي ډیرې یهودیان دیونجات ورکوونکې په طمعه دي چې هغه څخه په احادیثوکې هم ذکرشوي ده دجال مرادده مخته به دد جال ذکرپېژند نه هم نشرکړودوي 1967 کال مخکې دادا عاء کوله اي الله په همدي کال یروشلم کې په 1967کال پرمسجداقصي له قبضي ورو سته دوي دعاءکوله اي الله مسیحا ډیر ژرراولي په عسویانوکې په ځانګړي توګه دانګلستان اوامریکاعسویان کې دمسیح راروان دي خبره عامه ده مسلمانان اویهودیان عسویان دري واړه ملتونه دمسیح انتظارکې دي مسلمانان خودعیسی علیه السلام په طمعه دي چې له اسمانه به را ښکته شي ددوي کومک اودجال قتلولولپاره اوهغوی سره به دامام مهدي لښکرهم وي اویهودیان دمخالف مسیح یعنې دجال په طمعه دي فرق یواځې دغه ده یهودیان اوعسویانوځان چمتوکړي ده میدان بې ورته پاکه کړي ده سره له دې چې دوي په خپلوکتابونوکې لاس وهنه کړي خوله مسلمانانو سره دخپل پاک پیغمبرﷺ ربښتني کلام پرته له کومي لاس وهني پرته دي خوبیاهم له دې څخه بې پروادي په پاکستان کې داسې ډیرڅه شوي چې داسلامي نفوذڅخه یې سرغړونه کړي اودین ته یې هیڅ نه دي کتلي په داسې حال کې چې دلته عام خلګ له دین سره مینه لري اوالله تعالي به له داسې خلګومخلصه بنده ګانواودردمندوپاکستانیانوچې تحریک طالبان دي اودافغانستان مخلصه مجاهدین دي ضروردډېن کاراخلي نوموږبایددخپل نجات اوایماني بقاپه خاطرله دي یواځنۍ لاري بې پروان نه سوځکه چې له دي څخه بې پرواکیدل دمسلماني ښکلانه ده بلکې کمزوري بې پرواهي ده اخري خبره داده چې کومه لیکنه زه کوم له احادیثواکابرینوعلماء کرامو اقول دي که کومه غلطي پکې رانه شویې وي له الله څخه عفوه غواړم که مې په سمه توګه لیکلي وې دابه دالله جله جلاله مهرباني وي راباندي اوده مشفقه وستاذانودعااوبرکت وي.

# مسیحات

مسیح میم باندي زور سین باندي زیراوپه اخیرکې حـــاداکلمه دعیسی علیه السلام اودجال دواړولپاره استعمالیږي خوکله چې له دې څخه دجال مرادوي نوبیاله مسیح سره ددجال نوم هم ذکرکیږي یعني مسیح الدجال په داسې حال کې چې عیسی علیه السلام نوم مسیح الهدي اوس پوشتنه داده چې عیسی علیه السلام ته ولې مسیح ویل کیږي علماء کرام یې څولاملونه بیانوي مسیح دلمسولوپه معني ده اوعیسی علیه السلام ته ځکه مسیح ویل کیږي چې هغه به کوم مصیب ځبلي یاناروغ لمس کړنودالله تعالي جله جلاله په امربه روغ شـو دمسیح یوه معني شیاحت اوچکرهم دي عیسی علیه السلام دالله ج ددین په خاطرپه ځمکه کې شیاحت وکړنوځکه ورته مسیح ویل کیږي دهمدې دواړه اقوالوپه اساس مسیح دماسح اسم فاعل یعني لمسوونکي اوشیاحت کوونکي په معني ده دعیسی علیه السلام ټوله پښه پرځمکه لګیده په تلې کې یې خلانه وه نوځکه ورته مسیح ویل کیږي داچې عیسی علیه السلام له برکته سره مسح شوي یاله ګناهونوپاک شوي نوځکه هغه برکتناکه شخصیت وو.دهمدې دواړوا قوالوله مخې عیسی علیه السلام دممسوح اسم مفعول په معني راځي دنومونودلاملونوترمنځ کوم ټکرنه راځي ځکه چې د غه ټول فضیلتونه په هغه کې راجمعه شوي دي نوځکه ټول لاملونه یې په خپل ځاي دي څرنګه چې عیسی علیه السلام ته مسیح ویل کیږي په دې ترتیب دجال هم دمسیح دجال په نوم یادیږي اوس پوښتنه داده چې دجال ته ولې مسیح ویل کیږي په دې اړه هم ډېراقوال سته خوترټولوډېرواضح قول داده چې دهغه یوه سترګه او وریځه نښته ابن فارس رح فرمایي مسیح هغه چاته ویل کیږي چې دمخ ده دوه برخوڅخه یوه برخه یې له منځه تللې وي چې نه پکې سترګه وي اونه وریځه نوځکه دجال ته مسیح ویل کیږي همدارنګه په حدیث کې راځي چې دجال به په چپه سترګه ړوندوي دګڼو او ببرووښتانوخاوندبه وي جنت او دوزخ به ورسره وي دوزخ به یې په حقیقت کې جنت او جنت به یې دوزخ وي د دجال د دواړو سترګو تر منځ کافر کلیمه لیکل شوي وي د دجال سترګه به د ښیښې په شان شنه وي لکه انګور دي ته ورته ننبي هم په احادیثو کې ثابتې دي نو إن شاء الله له د غه لیکنو وروسته به د دجال مکمل تعریف او پېژند نه کله ولاړ ځوک وو چیري وو له احادیثو به یې تاریخ را نقل کړو.

## د مسیحا په طمعه

کله چې دقیامت ننبونښانو یادونه کیږي نوله دي سره جوخته یادونه به دمسیح علیه السلام
وي ځکه الله تعالي ج قران کې فرمایي : وَاِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّسَّاعَةَ
ژباړه عیسى علیه السلام دقیامت له ننبونښانو ځخه یوه نښــه ده عیسى علیه الســـلام دالله تعالي هغه پیغمبردي دیهودیانودآخري یادوني اوتوحیدلپاره یې رالیږلي وو یهودیانوله ده مخکې ډېرپیغمبران دروغجن وګڼل دهغوی بې ادبي یې وکړه اوډ یریې شهیدان هم کړل سره له دي چې دوي دوه ځلي جلاوطن شوسلیماني هیکل یې ونړول شواویروشلم یې ورته تباه کړخوبیاهم په سمه لارنه شوله دي وروسته الله تعالي بني اسرائیل ته عیسى علیه السلام داخیري پیغمبرپه توګه راولیږوچې دهغه پیروي وکړي اودهغه دین نوي کړي دیهودیانوتحریف شوي دین به په اصلي بڼه وښیي اوده دوي لپاره به رښتني مسیحاثابت شي عیسى علیه السلام له لومړي ورځي ځخه دوي ته دخپل رسالت معجزه وښودي عیسى علیه السلام له موره په داسي حال کې پیدا شوچې پلاریې نه درلودهغه په کوچنیوالي کې خبري وکړي له ماشومتوبه رښتني اونیک عمله شخصیت وو دده ښکلي شخصیت هرڅوک پرڅان مین کړي وو پرته له سرکشه یهودیانوځخه چې هغوی له هغه ځخه انکاروکړدوي احباروبدوعلماوو اورهبانیانوجعلي پیرانودخپل باطل دین اوسخت زړه له مخي هم دعیسى علیه السلام له نبوته انکاروکړدهغه سپیځلي موریې تورپوري کړلنده داچې کله ددوي شیطانت اونفس پرستي تراخیره حده پوري وررسبده نوالله تعالي ج دعیسى علیه السلام یوه بله معجزه ښکاره کړه چې په انساني تاریخ کې بې ساري پیښه ګڼل کیږي الله تعالي ج نوموړي صحیح سلامت اسمـــان ته وخیژاوه یهودیان همداسې پاتي شول او د هغه یو وېښته ته یې هم تاوان ونه رساوو له ده وروسته به یوځل بیاکله چې دجال راشي عیسى علیه السلام او امام مهدي په ملکرتیابه مومنان دتولي دجالي ځواک له خاوروسره خاوري کړي عیسى به له اسمانه ځخه ځمکې ته راکوزشي اوداسې معمولي ځواک به ورکړل شي چې هغه به رحماني ځواک وي اوکله چې له شیطاني ځواک سره مخ شي نوهغوی به لکه سیکه داسې ویلي کیږي دغه ورځ به دفریبکارانواخرې ورځه وي.

## سالمه عقیده

الله تعالي ج خپل محبوب پیغمبرعیسی علیه السلام اسمان ته وخیژاوو اوقیامت ته نږدې به یې بیرته له اسمانه ځنګې ته راکوز کړي همداده اسلامي امـــت سالمه عقیده ده همدغه سالمه عقیده له احادیثو څخه ثابـته شوي اوانــــکارکول تـري کـفردي په تېروو خـتونوکې جهیمه اوځینومعتزلـه ډلـواوپـه ماضي قـریب وخت کې سررسېداحمدخان مرزاقـادیاني لـه دي څخه انــکارکړي ده.

## د معجزو حکومت

عیســی علیـه الســلام تـه بیلابیلي معجزي الله ورکړیې وي لکـه څوک چې بـه خطرنـاکـه ناروغیواخته شـــوډالله تعالي ج په امربه یې روغ کړ همدارنګه دالله تعالي په امربه یې مړي راژوندي کول کله چې به یې له ختو څخه په جوړوشویومرغانوکې پـوکي وکړنودالله تعالي په امربه هغه کې ساه پیداشـوه اوده اصــــلي مرغانوپه شـان به والووت ړانده یې بـــیناکول ځینوعلـماءکراموېې داحکومت بیان کړي ده چې په هغي وخـت کې دیونان طبیبانـــوپه لاس طبي فن خپل اوج ته ررسېدلي وو نودالله تعـالي ج دهغـوی ددې فن په مقابل کې عیسی علیه السلام ته داسي معجزي ورکړیې وي چې دطب ماهرین به یې حیران کړي وواوهیڅ فـکرهم نه شوکولاي داچې عیسی علیه السلام له اسمانه راکوزشي نودیهودیانوساینشي پـرمختګونه به په یونظـرتـرپـښولاندي کړي لکه حدیث کې چې راغلـي دي کله چې دجـــال عیسی علیه السلام ووینـي داسي به ویلي شي لکه مالـګه چې اوبو ته واچـوي او یاهم لکه سـیکـه ویلي دعیسی علیه السلام ســاه چې ترکومه کافـره رسیږي په هغي وخت کې به مـــري اوترکومه چې نظر لګیږي ترهغـــه ځایې به یې ســـاه کارکوي.یهودیان چې له کومي تیږي لاندي کیږي هغه به دعیســی ملګروته اوازکوي چې راســی دلته کافرپټ ده ویې وژنی. له دي ســره به دکـــایناتوټول دروغـجن ځواکونه له منځه لاړشي

## دوفا لاري لارویان

کله چې عیسی علیه السـلام سره عسویانوبي حده مینه شروع کړله نودهمدې ربښتني میني دوه تقاضاوي یې هیرکړلي لـــومړی تقاضاداچې دهغه بشپړاطـــاعت اوسرښیندني یې هیري کړي دوهم داچې دعیســی علیه الســلام له دښمنانوڅخه یې نفرت اوکرکه ونه کړه لنډه داچې اخره مســله تردي ځایې وررســـېده پرځاي ددې چې هغه دالله تعالي ربښـــتني پیغمبروګڼي به

خدا یتوب یې ونیوه اودعیسی علیه السلام له دشمنانو سره دنفرت پرځاي یې ملګرتیا پیدا کړه مسلمانان به له عیسی علیه السلام اوملګرو سره اوږه په اوږه داخیري زماني په سترجنګ کې ونېږه واخلي اوله یهودیانو مسیح الدجال اودهغه له ملګرو سره بع خونړۍ جګړه کوي سره له عسویانوله مسلمانانو سره کینه لري چې دهغوی دپیغمبرعیسی علیه السلام یادونه له ادب اوتعظیم پرته نه کوي خوبل همدا عسویان بیاله یهودیانو سره مینه لري چې دټولو پیغمبرانو په شان دعسویانودسپیڅلي پیغمبربې ادبي هم کوي اوددوي په ګمان دهغه قاتلان هم دي.

## داخري جګړې ډګر

مخکې مویادونه وکړه چې دنړۍ په سطحه دري ډلوي ملتونه مسلمانان عسویان اویهودیان مسلمانان دعیسی علیه السلام راتګ ته په طمعه دې خوتوپیریوائې په دغه کې دي چې یهودیان مسیح کاذب یادروغجن رښتني لاربښودګني اومسلمانان اوعسویان رېښتني مسیح ته په انتظار شپې ورځې سباکوي کوم توپیرچې ډېرارزښت لري هغه دادي چې په او سني وخت کې یهودیان اوعسویان په ډېرشدت سره دغایب مسیح هیله مند دي په امریکاکې نږدې اتیازره بنیادپرسته پادریان ددوي علماشتون لري چې له دوي څخه ډېرپادریان له زروعسوي راډیوګانو څخه تقریرونه کوي اوتس په نامه مرتدپاکستان کې هم دعسویانوراډیوفعاله ده پشاورکې پشتوخبري تقریرونه کوي دخلګواذهان خرابه وي تاسویې دازادي راډیوپه تېسن کې اوریدلي شې کومه چې ازادي ډیوه راډیوکارکوي هغه تیسن کې ډیوه راډیوشاته بل تیسن ددوي راډیوده اودوي ترسلودعسویت تلویزوني چینلي هم لري په دوي کې زیاتره یې د DisPensationa ډلې خاوندان دي داډله کسان په دې عقیده دي چې ډېرژربه مسیح علیه السلام راشي اویوه ستره جګړه به ونښلي دداسې خلګوشمیرډېردي دوي دبابیل دتورات زبورانجیل ټولګه په اړه ډېرښوونځي لري 1998کال دبابیل دښوونځیوده زده کړیالانو شمیر 10000 لک څخه زیات وو په دوي کې له 90/80 سلنه پوري ښوونکي اوزده کوونکي کوم انګریزي نوم چې ماپورته لیکلي ده دي له همدې بابیل ښوونځي څخه فارغیدوتري پادریان جوړشي اودخپلوعقیدولپاره دعوت اوتبلیغ کوي یاله دي جلادبابیل بله ځانګه جوړوي اوخپل تدریس په کې مخته وړي دغه خلګ پردې پوخ باورلري چې یوه ویرونکي تباهي راروانه ده خودوي ته به یوه شیبه تکلیف هم نه وي ځکه چې له مخکې څخه به یې نجات موندلي وي ددې عقیدې مقلدین پخپل مسلک کې بنیادپرست دي اوپه دې وخت کې ددې

ډلي پيروان په امريکاکي ځلـورمه بـرخه جوړوي ددې تـنظيم مالي مرسـته کوونکي
مشهـورشتمن امريکايان دي دغه تحريک په ډېره چټکۍ پـرمخ روان دي ددوي موخه داده
چي يوبلـين ډالرراټول کړي اودځمکې دکري هرفـردورځ تربلي زياتـيږي هـرکال دوه بيلنه
ډالرسپموي له دوي پرته نورمبلغـين تره دوه مليونه کسانوپورې خـپل پيغـام رسوي اوله نيم
بلين ډالروڅخه زياتي ډالې تـرلاسـه کوي که بل لوري ته فکروکړونـودامريکا مشـهوره
اوسياسي ابين المللـي اشخاص هم دي څخه اغـيزمن شوي دي ولسمـشرريګن په 1981کال
کې له جم بيکرنـومي پـادري سره پخپلوخبروکې وويل تاسولږفـکروکړی لږترلـږه شـل مليونه
عسـکربه له ختيځ څخه اوپه مليونونوبه له ختيځ څخه وي دروم يعني لويديځي اروپـاله
بيارغونـي څخه وروسـته به عيسـی عليه السـلام پرهغوخلګوبريدوکړي چې دهغـوی
ښـاريرشلم يې لوټ کړي ده له دي وروسـته به پرهغه خلګوهـم حملـه وکړي چې په ارمـاګـون
نـومي سيمه کې به راټـول شوي وي پـه دي کې شـک نشـته چي له يروشـلم څـخه تردوه سـوه
ميله فـاصلـي پورې به دومـره وينه توي شي چې داسونوتربجلکـوپورې به رسيږي دغه ټوله
سيمه به له جنګي سامانونودڅاروبو اوانسانانو له جسدونو او وينوڅـخه ډکه شي پرداسې
خبره په اسانی نه پـوهيږم انسـان له بل انسان سره دا ډول غـيرانساني کړني تصـورهم نشي
کولي خـوبه دي ورځ به الله تعالي جله جلاله انسانـي فطـرت ته اجـازه ورکړي چې خـپل ځان
بشپړښکـاره کړي دنړۍ ټـوله ښـارونه لندن پـاريس تـوکيونـيوراک لاس اينجليس شکـاګو ټول
به دانساني هسـتی څـخه نابـوت شي نـامتوامريکايي ليکوال ګريس هال شيل پخپل کتاب
چې اردو ژباړه يې ده امريکاعالم السلام پريلغـارکيونوميږي ليکلي دي په امريکاکې تـراتـه
کالوپورې داسې ولسمشـرروناله ريګن هـم تېرشوي چې هـغه پـه دي بـاوري وو چې دوخت
دپاي ته ررسـېدوقيامت ته نږدي ورځـوپورې به ژوندي وي بلکې ده تکيې وهلي وه او ويې
ويل چې دغه پيښه دده نظامي زمانه کې رامنځ ته شي ولسمشرجارج ډبليوبوش يوځـل ناري
کړي او ويې ويل مـاته دالله تعـالي لـه لوري نېغ په نېغه لارښـوني کيږي العياذبالله پرته له دي
ددوي نوره ناروا ناره هـم واورۍ ريولنډ کلايډلوټ يوپادري دي چې هغه دبايبل ديوايت په
تفسيرکې داسې وايي ديهوديانو دريم هيکل به په لازمي توګه يروشلم ته دمسيح له دوهم ځل
راتګ مخکې اباده شي داپـادري دداسې سـورغـوايي ذبح کولـوخبـره کوي چې هيڅ داغ ونه
لري چې له دي ورو سـته به دراتلوونکي هيکل دجوړيدومراسم بشپړ شي دوي به دهيکل له
خاطره پخـواني اسلامي عبادت ځاي مسجـداقصـي اوصخـره ګنبده ونـړوي کلايډ په دي

باوري دي چې دالله تعالي په شمول به داکارپه مناسب وخت کې ترسره شي العياذب الله په 1998زيږديزکال په اخروکې پري يوي اسرائيلۍ خبرپاڼي ويب پاڼي وليدل شو چې په کې ويل شوي وو ددوي موخه داده چې اسلامي عبادځايونه لرې کړي اوپرځاي يې يهودي هيکلونه ورغوي خبرپاڼه زياتوي چې د دې هيکل د جوړيدو مناسب وخت راغلي دي په خبرپاڼه کې له اسرائيلي چارواکو غوښتنه شوي چې ملحدانه اسلامي قبضې د جومات له ځايې وباسي د دريم هيکل د جوړيدو وخت ډېر نژدي دي اسرائيلوداخيري عظيم جنګ ډرامي ته پوره تياري نيولي هغه داچې دهغوپرپخوانۍ ځمکه دعبادت لپاره له سره بياعبادت ځاي جوړ کړي دموسي عليه السلام دفرمانونوله مخي يوځاي شته چې بايدهغه په کې جوړشي اوهغه ماونت موريا ده داهغه ځاي ده چې له دي مخکې په کې ډېرعبادت ځايونه جوړشوي وو يعنې عين مسجداقصي ام معراج ګنبده باندي لنډ داچې لوديځوال په دي عقيده دي چې سپيڅلي پلارعيسی عليه السلام له راتګ وروسته بيرته اسمان ته پورته شوهغه به هلته داسمان په بالاخانو کې ناست وي اوله هغي ځايې به دا خيري خطرناکې جګړې ننداره کوي.

## منځ کړۍ

قيامت نښې په دري ډوله دي لومړۍ نښه يعني درسول الله ﷺ په زمانه کې ياهم دهغه له زماني وروسته خوله نن څخه ډېره موده مخکې راڅرګندي شوي وي چې دهغي او قيامت ترمنځ نسبتاً لري واټن پروت وي دوهم منځنۍ نښې هغه نښې دي چې راڅرګندشوي دي خوخپل اخيري حدته نه دي ررسيدلي کله چې دغه ډول نښې خپل اوج ته ورسيږي نودريم ډول علامولړۍ به پيل شي دريم نږدې نښې دانښې قيامت ته بلکل نږدې دي چې پرله په شې به راڅرګندي شي اوکله چې دغه ټولې نښې تقريباً لس داني دي پوره شي نوهرکله چې درب العالمين خوښه شي په هغي وخت کې به سمدستي قيامت په ناڅاپي توګه راشي لومړي اودريم ډول علامې به کاينتاتوکې دراپيښيدونکوپيښو سره تړاولري په داسې حال کې چې دمنځ دوهم ډول علامې دمنځ کړۍ دانسانانواعمالوپورې تړلي دي لکه په لومړي دول نښوکې دا راځي چې الله تعالي جله جلاله به رسول اللهﷺ ته نبوت ورکړي اوبيابه يې وفات کړي سپوږمۍ به دوه برخې شي دتاتاريانوفيتنه به راولاړه شي اوداسې نور دوهم ډول هغه ګناهونه چې بدي کړني دي چې کله په کې انسان اخته شي نوپه حلالوحرامونه پوهيږي ګناهونه تردي بريده ورسيږي چې په جوماتونواومدرسوکې به ټنګ ټکوردخلګوغوږونوته ورسيږي چې دغه دي اوس يې خلک په خپلومبايلونوکې ساتي اودغه علامه پري پوره شوه ددې ډول ګناهونوشميرله اوياووڅخه

اوړي چې پـه احـاديـثـوكـې پـه تـفـصـيـل سـره مـوجـودي دي ددريـم ډول عـلامـوتـراو دكايناتونااشناپيښنو سره دي چې شميريې لس دي پنځه دعيسى عليه السلام ترنازليدوپورې او پاته پنځه يې له نزول وروسته وخت پورې تړلي دي دي اخيري پنځونښوته علامات اكبروايي ياقربې هم ورته وايي له دي وروسته به قيامت داسې ژر راشي لکه دحاملې اوښې اخيري ورځ چې نه پوهيږې كله به بچې پيدا كيږي. له دي وروسته پنځه نښوڅخه مخكې پردي پوه شئ چې امام مهدي عليه السلام د منځنيو او نږدې نښومنځنۍ كړې ده يعني كله چې په نړيۍ كې ظلم او شرارت خپل اوج ته ورسيږي اوحقپرسته په سخت ازموېښت كې راګير شي نودحقپرستودمشري لپاره به الله تعالې ج امام مهدي راڅرګندكړي په داسې حال كې چې دعيسى عليه السلام په لاس به ټولې نړۍ ته اسلام رسيږي د هغه له وفات وروسته به د نړۍ په بدليدو شي تردي چې دځمكې پرمخ به داسې فساديان پاتې شي چې ښكاره سړكونوله پاسه به دخرو په شان زناوي كوي اوپه دي به هيڅ نه شرميږي.

## پنځه نږدې علامې يا نښې دا دي

د مهدي راڅرګنديدل ددجال راوتل دعيسى راكوزيدل له اسمانونوڅخه دارماګدون په نوم نړيوال جنګ چې اسرائيلودله منځه وړلوسبب به ګرځي اوپنځم ياجوج اوماجوج پنځه قربې علامې دادي خسف يعني ځمكې ته دننوتلودري پيښې يوه په ختيځ كې يوه په لويديځ كې اويوه دعربوپه جزيره كې په كايناتوكې خپورشوي لوګي له لويديځه څخه لمرراختل له ځمكې څخه يونا اشناحيوان راوتل چې له خلګوسره به خبري كوي او خلګ به د اخرت ځل لپاره د بدواعمالو له پلوي ويروي له يمن څخه به يواور راووځي چې خلګ به دشام لوري ته بيايي داهرڅه په داسې حال كې چې امام مهدي اوعيسى عليه السلام دقيامت له نښوڅخه داخيري قسم علامومنځنۍ كړې ده او امام مهدي به په هغه وخت كې راڅرګندشي چې كله ځمكه دظلم كفراوجبرڅخه ډكه شي مسلمانان به له خپلومشرتابه ناتوانه وي اوپه ډيره ناقرارۍ به ديونجات كوونكې مشرپه طمعه وي دوي به دهمدې جبرظلم په حالاتوكې خپلوجهادي چاروته دوام وركوي تردي چې په نړۍ كې به يوه ټوټه ځاي پاته شي چې هغه به ددوي پناځاي وي له دي خبروروسته دمسيح عليه السلام په اړه ځينوخبروته اشاره كووچې دغه موضوع به نوره هم روښانه كړي إن شاء الله په دي كې مودا طريقه خپله كړي چې لس پوښتني به وكړو اوځواب به يې دحديث شريف له بشپړي ژباړي څخه ترلاسه كړو دحوالي په توګه

مورډمولانامفتي محمدرفيع عثماني رح له علامت قيامت نزول مســيح نومي كتاب څخه مرسته اخلولاندي دحديث ژباړه بعينه له هماغه كتاب څخه اخيستل شوي.

## د مسيحاتو اړوند لس پوښتنې

د مسيحاتوپه اړه ذهن ته لومړۍ پوښتنه دا راولېږي چې ولي الله تعالي ج د يهوديانو او دجال دوژلولپاره عيسى عليه السلام غوره كړ داسې كوم لامل دي چې داچاري يې هغه ته وسپارلې ددې پوښــتنوځواب راته حديث شـريف راكوي كعب احباررحمة الله عليه فرمايي كله چې عيسى عليه السلام وليده چې منونكې يې لږاو دروغجنوونكې يې ډېردي نوالله تعالي ته يې شكايت وكــړنوالله تعالي ج عيسى ته وحيې وكړه چې زه به دي په طبعي مرگ وفات كړم لكه څرنگه چې ستاليپاره طبيعي مرگ ټاكل شوي نوددښمنانوپه دارځړولواو نورزيانونوڅخه به په امن كې شــي او اوس دي خپل لوري ته پورته كوم اوڅوك چې زه خپل لوري ته پورته كړم نوهغه مړنه ده بلكې له دي وروســته به دي دجال ته ليږم هغه به ستاپه لاســووژل كيږي كعب احبار رح زياتوي داخبره درسـول الله ﷺدهغي حديث تصـديق كوي چې په كې فرمايي داسـې امت به څرنگه هلاک شـي چې په سـركې يې زه يم او اخيركې عيسـى عليه السـلام ده عيسـى عليه الســلام به څرنگه پېژندل كيږي ډېري خلكودمســيح كيدودعوي وكړي خوپرځاي ددې چې خلگ دنجات لورته وباســي دگمراهي كندي ته يې وغورځول حقيرســته مســلمانان به رښتني عيسى عليه السلام څرنگه وپېژني دنبوت پرژبه ځواب واورئ عن ابي هريره رضي الله عنه ان نبي ﷺ قال ليس بيني وبينه نبيٌ يعني عيسى وانه نازلٌ فأذارأيتموه الخ چونكې كبورټ موضعيفه ده مكمل حديث نه سوليكلي:

ژباړه له ابوهريره رض څخه روايت ده چې رســول الله ﷺوفرمايل زمااوده هغه يعني عيســى عليه اسلام ترمنځ كوم نبي نشــته اوهغه به نازل شــي كله چې يې تاشـي ووينئ نوويې پېژنئ دمنځني قداوقامت خاونددمخ رنگ به يې سـوراوسـپين ژيړبخني دوه كپړي به يې اغوسـتي وي دسروښتان اگرچې لامده به نه وي خوبيابه هم دپاكوالي اوځلاله خاطره داسې وي لكه اوبه چې تري څاڅي داســلام له خاطره به له كافرانوســره جنگيږي صـليب به مات كړي خنځيربه ووژني دجزيې اخيستل به بندكړي الله تعالي ج به دهغه په زمانه كې اسلام پرته ټول دينونه له منځه يوشــي اودهغه په لاس به دجال ووژل شــي عيســى عليه الســلام به په ځمكه كې له څلويښتوكالووروسته وفات شي اومسلمانان به پري جنازي لمونځ وكړي په صحيح البخاري كې دعيســى عليه السـلام په اړه نوري علامې هم ښـودل شـوي دي عيسـى عليه السـلام به ډېرښايسته غنم رنگه شخصيت وي وښتان به يې ډېرگونگرودا ره كړوړي نه وي تراوږوپوري

اوږده وي له سرڅخه به يې اوبه څاڅي بدن به يې معتدل اوسوررنګ ته به مايل وي لکه اوس چې غسل کړي وي.

### د عيسى عليه السلام ملګري به څوک وي؟

اوس پوښتنه داده چې عيسى عليه ا سلام به دکومــو خلګوپه منځ کې نازل شي په کوم وخت اوڅه کيفيت ســره به راکوزشــي دکومونيکمرغه خلګوپه منځ کې به نازل شــي دوي به دکوموصفاتوخاوندان وي چې الله تعالي ج يې دداسې سترشخصيت ملګرتياپه برخه کوي په نبوي ژبه يې ځواب واورئ ژباړه جابررض څخه روايت ده چې ماله رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې زماامــت کې به يوه ډله ترقيامته پورې دحق لپاره جګړه کوي بيايې وفرمايل عيسى عليه الســلام به نازل شــي نوددې ډلې اميربه ورته ووايي راشــه لمونځ راکړه دجمعي عيســى عليه الســلام به وفرمايي نه الله تعالي ج دې امــــت ته عزت ورکړې نوځکه په تاســوکې ځينې دنــوروامیران دي ابوحذيفه بن اليمان رض څخه روايت ده چې رسول الله ﷺ وفرمايل هغه به ده اردن ده افيق نومي غونډۍ باندې راښــکاره شــي داغونډۍ په اردن کې پرته ده چې نږدې دوه ميله اوږدوالي لري په دې وخت کې چې څوک پرالله تعالي ج او ده اخرت په ورځ ايمان لري هغه به په دې سيمه کې موجودوي دمسلمانانواو دجالي لښکروترمنځ به جګړه ونښلي چې په کې به دريمه برخه مسلمانان قتل شي دريمه برخه به له ماتي سره مخ شي او وبه تښتي او يوه برخه به پاته شــي کله چې شــپه شــي نومســلمانان به يوبل ته ووايي تاســودخپل الله رضــاپه خاطرله خپلوشــهيدانووروڼوســره دمــــخ کيدوشــهيدکيدولپاره نورڅه ته په طمعه کيږئ له چاســره چې خواړه زيات وي نوبل مســلمان وروته دي ورکړي تاســودســهارلمونځ له معمول وخت څخه مخکې اداکړئ اوبيا ددشــمن مقابلي ته روان شــئ کله چې دغه خلک لمانځه ته ودريږي نوعيسى عليه السلام به يې مخې ته راکوز شي اوله دوي سره به په لمانځه کې ګډون وکړي دلمانځه ترفارغيدووروســته به هغه په لاس اشاره وکړي او وبه فرمايي تاســوزمااو ده الله تعالي ج دشمن دجال له مخي لرې شئ چې پخپلوسترګومي ووينې ابــوحازم ددې حديث يوراوي وايي چې ابوهريرض وفرمايل دجال به عيسى عليه السلام په ليدو داسې ويلي شي لکه مالګه چې اوبوکې ويلي کيږي او الله تعالي به مسلمانان پردجال اودهغه پرلښکرومسلط کړي هغوئ بــه ټول ووژني ترددې چې دا يهوديــان بــه ترکــاڼوبــــوټوپټيږي کــاڼي بوټي بــه مســلمانانوته دا اوازکوي چې راســئ يهودي کافردغه ده له تاســوپټ ده او ويې وژنئ لنډه داچې مکمل به قتل کړي.

## د عیسی علیه السلام تګ لاره

عیسی به دکوم کارونولپاره تشریف راوړي عیسی علیه السلام به دیوپیغمبرپه صفت نه راکوزیږي ځکه چې دمحمدرسول الله ﷺ له نبوت وروسته دپیغمبري لړۍ پای ته ررسېدلي ده پردي خبره دټول امت اتفاق ده البته دعیسی علیه السلام راتګ به ددې لپاره وي دحدیث ژباړه عیسی بن مریم به زمادامت یواځي انصاف کوونکي حکمران وي هغه به صلیب مات کړي خنځیربه ووزني جزیې به بنده کړي له مصنف یاانصاف کوونکي حکمران څخه دامعلومیږي چې هغه به داسلامي تګلاري دپوره کولولپاره دي نړۍ ته راکوزشوي وي دخنځیرووژلوصلیب دماتولومو خه داده چې څوک دصلیب عبادت کوي هغوی به یې عبادت پریږدي اوڅوک چې دخنځیرغوښه خوري هغوی به یې خوراک پریږدي که نړۍ ته یونظرواچول شي نوپه ټولوهیوادونوکي جزیې یاټیکس اخیستل کیږي او دا دلویدیځوهیوادنویوه پلمه ده چې بایدپه ټوله نړۍ کي پلي شي له دي څخه داهم ممکنه ده چې دنړۍ دهراورسېدونکي کیفیت معلوم کړي چې دادمسیح دجال لپاره دي ځکه چې عیسی علیه السلام به ددې مخالف وي اوهغي ته به دپای ټکي کیږدي

## ځلګړی وخت

داچې عیسی علیه السلام به په یوخاص وخت راکوزشي په دي کې حکومت څه ده الله تعالي ج به په هماغه وخت کې عیسی علیه السلام نازل کړي چې دجال به یوشخص وژلي وي او دبیاراژوندي کولواراده به یې لري داهرڅه ددې لپاره چې دژوندااومرګ اختیاریوه داسې خبره ده چې خلګوپه خپل ژوندکې نه ده لیدلي دجال به خلګ دي ته لمسوي چې د هغه خدایتوب ومني العیاذبالله یا په بل عبارت د دجالي ځواکونو ساینشي قوت به اوج ته رسېدلي وي بل لوري ته عیسی علیه السلام د الله تعالي ج د یو پیغمبر په توګه یې دا معجزه دالله تعالي ج په امر دمړو راژوندي کول مخکې خلګوته ښودلي وو همدامعجزه به یوځل ښکاره کوي دمعجزوي قوتونو مقابله به له ساینشي قوتونوسره وي چې په پایله کې به معجزوي قوتونه بري ترلاسه کوي اویوځل بیابه الله تعالي ج خپل سپیڅلي بنده ګانو ددجال له خدایتوب منلوڅخه وژغوري

## په ځمکه کې د پاته کیدو موده

له اسمان څخه ترنازلیدووروسته به عیسی علیه السلام څومره وخت په ځمکه کې ژوندي وي دنړیوال اسلامي خلافت له جوړیدووروسته به نومورې له مسلمانانوسره څرنګه ټولنیزژوندکوي راځئ درسول الله ﷺ له مبارکې ژبې واورو عبدالله ابن عباس ض فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل عیسی علیه السلام به په دنیاکې له نازلیدویوویشت کاله وروسته نکاح وکړي اوله نکاح وروسته به نولس کاله ژوندي وي په دي ترتیب نومورې به په دنیاکې څلوېښتوکالوپورې ژوندي وي چې په نوروا احادیثوکې هم دي ته اشاره شوي په بل روایت کې راغلي رسول الله ﷺ فرمايي دجذام قبیلي یوهیت ته وفرمایل دشعیب علیه السلام اوموسي علیه السلام دخسرګنۍ ستا سوراتګ دي مبارک وي قیامت به ترهغه رانه شي چې مسیح علیه السلام ستاسوپه قوم کې نکاح ونه کړي اودهغه اولادپیدانه شي دجذام قبیله شعیب علیه السلام دقوم یوه څانګه ده اوپه سورت قصص کې ایتونوکې ثابت ده چې شعیب علیه السلام دموسي علیه السلام خسروو له دي حدیثه معلومه شوه چې کله عیسی علیه السلام نړۍ ته راکوزشي نودجذام قبیلي له یوي انجلۍ سره به نکاح وکړي اوله دي څخه به الله تعالي اولادهم ورکړي الله تعالي به دغه قبیلي ته داسې عزت ورکړي چې له موسي علیه السلام پرته به یې دعیسی علیه السلام خسرکنۍ هم شي دعیسی علیه السلام د نازلیدوځاي اوس بن اوس الثقفي رض نه روایت ده چې رسول الله ﷺ وفرمایل عیسی علیه السلام به دمشق په ختیځه څنډه له سپیني مناري سره راکوزشي کعب احبارض فرمايي عیسی علیه السلام به دمشق په ختیځه دروازه سپین پل له پاسه داسې راکوزشي چې وریځې به یورته نیولي وي لاسونه به یې دملایکوپراړو ایښي وي پربدن به یې دوه نرمې کپړې تاوکړي وي له یوڅخه به یې لنګ وهلي وي اوبله به یې پربدن تاوکړي وي کله چې سرټیټوي نودسپینوزرو ملغلروپه شان داوبو څاڅکې به تري څاڅي په دي دواړوا احادیثوغوروکړۍ مشهورداده چې عیسی علیه السلام به دمشق جامع مسجدله ختیځي مناري سره راکوزشي خو څیړونکې وايي چې دمشق ښارڅخه بهربه دختیځي څنډي سپین پل سره کوزشي همدارنګه دحدیث شریف الفاظ ته ډېره نږدي ده له نړیوال ا سلامي خلافت ورو سته له عبدالله ابن مسعودڅخه روایت ده یوحدیث په اخرکې ارشاددي کله چې عیسی علیه السلام نازل شي اودجال ووژني له دي ورو سته به خلک ترڅلوېښتو کالوپورې دا سې په مزوچړچوکې ورځي سباکوي چې نه به په کې څوک مري نه به څوک ناروغه کیږي څاروي بت هم نه چاته مالي زیان رسوي اونه

ځانۍ تردي چې سړي به خپلوبزوته وايي چې لاړې شې اووخيريږې يعنې له شپونکې پرته به ثاړکوي اوهغه ثاروي به ددوو پڼوترمنځ تېريږي اوپټې يوه وړې ته به هم زيان نه رسوي يواځې هغه شيان به خوري چې د ثارويولپاره الله تعالي پيدا کړي دي او زراعت ته به پکې زيان نه رسيږي همدارنګه ماران لړمان نورحيوانات به هم چاته ضررنه رسوي اوخلګ چې يو من غنم وکري هغه به اووه سوه منه کيږي ابوهريره ض وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل له عيسی عليه السلام څخه وروسته به ژوند ښه تېريږي وريځوته به دباران دوريدو او ځمکې ته دنباتاتودرازرغونيدو اجازه وشي تردي که تا سوخپل تخم په سخته ډبره کې وکرې هم به راشين کيږي دخلګوتر منځ به حسد او کينه نه وي او دامنيت به دا حال وي چې سړي به دزمري تر څنګ تېريږي خو هغه به ورته زيان نه رسوي اوپرماربه پوښه کيږدي خوهغه به ورته نقصان نه رسوي دعيسی عليه السلام وفات له عايشي مبارکې څخه روايت ده مارسول الله ته وويل اي دالله رسوله زه داسې فکرکوم چې له تاوروسته به ژوندۍ يم نوايا اجازه راکوي چې ستا ترڅنګ ښخه شم رسول الله ﷺ وفرمايل څنګه په لاس درشي هلته زما دابوبکر عمر اوعيسی عليه السلام له قبرونوپرته بل چاته ځاي نشته عبدالله بن سلام ض څخه روايت ده ژباړه په تورات کې درسول الله ﷺ دځانګړتيا واړوندليکل شوي وو او داخبره هم چې عشي عليه السلام به له ده مبارک سره دفن شي عبدالله بن سلام وايي چې عيسی عليه السلام به درسول الله ﷺ له دوه ملګرو سره نږدې دفن شي او دعيسی عليه السلام قبربه يې ثلورم وي له عيسی عليه السلام وروسته لسمه پوشتنه داده چې عيسي عليه السلام له وفات وروسته به په نړۍ کې پرمسلمانانوژوند څه ډول تېريږي  ژباړه له ابوهريره ض څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې عيسي عليه السلام را نازل شي نو دجال به قتل کړي او ثلوښتوکالوپورې به ژوندي وي په خلګوکې به دالله تعالي دکتاب اوزما سنت طريقوله مخي عمل کوي اوخلګ به دهغه دمرګ وروسته دعيسي عليه السلام دوصيت په اساس دبنم تميم قلبلي يوتن دعيسي عليه السلام خليفه مقررکړي چې مقعدبه نوميږي دمقعدله مړيني وروسته به په خلکوديرش کال تېرشوي نه وي چې قران کريم به دخلګوله شينواوصحيفوڅخه پورته کړل شي له ځينواحاديثومعلوميږي چې دعيسي عليه السلام له وفات وروسته به قيامت ډېرژر راشي اوپه نورو روايتونوکې راغلي چې لږ ترلږه يوسل شل کاله به تېر شي ددې دواړوقسم روايتونوکې خومعلوم تضاداو ټکر معلوميږي خوددې ځواب داده چې موده خو به يې يوسلوشل کاله وي خودغه وخت به ډېرپه تيزي سره تريږي يعنې کال

په دمياشتي مياشت په دهفتي هفته په دورځي هومره برابرشي دوختونودبي برکته کيدووړاندوينه دمسنداحمد په يو مرفوع حديث کې په ډاګه بيان شوي چې روايت يې ابوهريره ض کړي دي که داټول روايتونه سره راټول شي اوفکرپري وشي نوداسي معلوميږي چې دعيسي عليه السلام له وفات وروسته به 120کاله ضرورتېريږي لکه دعبدالله بن عمروبن العاص ض په اثرکې راغلي چې دعيسی عليه السلام له وفات وروسته به عربان تريوسلوشل کاله پورې په شرک اوبت پرستي کې اخته وي اوپه فتح الباري کې راغلي دي چې دعبدالله ابن عمروبن العاص ض څخه دا ارشادنقل شوي چې کله لمرله لويديځ څخه راوخيژي نوله دي څخه يوسلوشل کاله وروسته به خلګ په دنياکې ژوندي وي له دي وروسته به قيامت واقع شي.

## دجاليات

ابو امامه باهلي رض څخه روايت ده چې الله تعالي د ادم عليه السلام اولاده پيداکړي له دجال څخه ستره فتنه په کې بله نشته او الله تعالي چې هرنبي مبعوث کړي دي نوخپل امت يې ددجال له فتني ويرولي ده او زه اخيري نبي يم اوتاسوغوره امت ياست نوځکه هغه به په تاسوکې راڅرګندشي که زماپه ژوندکې دجال راشي نوزه به يې مقابله وکړم اوقتل به يې کړم اوکه له ماوروسته راغي نوهرمسلمان دي خپله دفاع پخپله وکړي الله تعالي به دهرمسلمان ساتونکي اونګهبان وي دجال به دشام سوريې اوعراق په منځ کې په يوه لاره راښکاره شي هغه به ښي اوچپه لوري ته فسادخپروي اي دالله تعالي بندګانو تاسو په هغه وخت کې ثابت قدمي پاته شی زه يې درته هغه نښي ښايم چې له ماڅخه مخکې هيڅ پيغمبرنه دي ښودلي دجال به لومړی دادعوه کوي چې زه پيغمبريم العياذب الله په داسي حال کې چې له ماوروسته بل پيغمبرنه راځي بيابه دادعوه وکړي چې زه ستاسو رب يم العياذب الله خودهغه په ليدلوسره به په هغه کې دري داسي شيان وليدل شي چې دهغه دا دعوي به دروغجنه کړي لومړی داچې هغه به تاسو په سترګو ووينی په داسي حال کې چې تاسو مرګ څخه مخکې خپل رب ليدلي نه شی نودهغه ليدل ددې خبري دليل دي چې هغه رب نه ده بلکې کاذب دروغجن کافرده دوهم هغه به ړوند وي په داسي حال چې ستاسو رب ړوند نه دي بلکې سميع زات بصويرزات ده دريم داچې دهغه ددواړوسترګوترمنځ به کافرکليمه ليکل شوي وي چې هر مومنين يې لوستلي شي په ځينواحاديثوکې راغلي چې ددجال چپه سترګه به ړنده وي اوپه ځينو کې يې دښی سترګي دړوندوالي يادونه شوي ده په ښکاره توګه خوپه دي دواړو

احاديثو کې ټکر تعارض راځي خوله يو بل حديث څخه ددې پوره وضـــاحت شـــوي دي چې ددجال دواړه سترګې به عيبجني وي چپه سترګه به يې بې نوره اوښۍ سترګه به يې دانګـــورپه شان راوتلي وي.

## دجال څـــوک دی؟

دجال څوک دي چيرته ده کله به راځي دا دري پوښـــتني په هرهغه ذهن کې تاويږي چې دنيا يې يواځې دنيا پورې محمدوده نه بلکې پراخرت هم باورلري اوپردي هم باوري دي چې دقيامت په ورځ به تري په دي اړه ضـــرورپوښـــتنه کيږي چې په کومه چاپړۍ کې دي خپل کردارا چولي دي اوڅه کړنلاره دي غوره کړي ده دجال څوک دي په دي اړه بيلابيل نظرونه شـتون لري ځيني په کې داسـي خنديدونکي دي چې انسـان ته پري بې اختياره خنداراځي موږ له هغي ډله کوو يواځې هغه دري اقوال يې را اخلو چې مشهـوره دي سامري جادوګـــــــــر ځيني حضرات دا وايي چې د موســي عليه الســلام په زمانه کې يو کس وو چې ســامري نوميده او هغه په بني اسرائيلو کې شرک خپـــورکړ چې همدا دجال وو دجال ته الله تعالي دټولې نـــړۍ واک ورکړي دي په همدې ترتيب دسرو زرو خوشي ته حرکت ورکول چې خبري يې وکړي ياهغه دشيطان غږ وو اوهغه غږ وکړنو داکومه لري خبره نه ده ددې دليل دا دي چې موسي عليه السلام سره له دي چې سامري ډېرسخته ګناه وکړه خو داخبره يې وکړه چې بايد ووژل شي موسي عليه السلام ســامري لعنتي ته وفرمايل وان لک موعداً لن تخلفه ژباړه بې شــکه ســتاليپاره ټاکلي وخت مقرر شوي چې ته به تري مخکې او شاته نه شي داځکه چې په هغه وخت کې يې د سامري وژنه موخه نه وه ددجال مسيح کاذب وژنه خو دعيسی عليه السلام په لاس ليکل شوي چې مسيح صادق ده کله چې سامري ته وريل شو لاړشه ستا سزا داده چې په ټول ژوندکې به داخبره کوي چې ما مه لمس کوۍ نوسـامري چې ددجال په نوم نومول شـوي په ټيپي حالت کې له هغه ځايې ورک شو او اوس هم نامعلوم دي دا رايې ددجاليت په موضوع کې ده مشهوره ليکوال اسرار عـالم ده ددې د تايد په اړه ماته کوم قول په لاس رانه غي اوده ســامري په اړه چې کوم تفصـيل په تفسيرونو او تاريخ په کتابو کې نقل شوي هغه پردجال نه تطبيقيږي دبيلګې په توګه سامري په يوه ســترګه ړوند نه وو په داســې حال کې چې دجال په يوه ســترګه ړوند ده دهغه په دواړوو سترګو په منځ کې دکافرکلمه نه وه ليکل شوي په داسې حال کې چې دجال ددواړو سترګو ترمنځ

به کافر کلمه لیکل شوي وي موشي علیه السلام هغه ترلي نه وو لاکن دجال په ځنځیرونو تړل شوي ده داسامري سزا په ټول ژوند کې داشوه چې هغه ته څوک په مخه ورځې دابه ورته وایې چې ماته مه رانږدې کیږه اومه یې لمس کوه که په رشتیا سامري دجال وای نوپه حدیثوکې به یې یادونه شوي وای خو په هیڅ حدیث کې دي خبري ته اشاره نه ده شوي چې د جال هغه سامري وو چې په زرگونو کلونو مخکې یې ژوند کاوو ځینې پوهان وایې چې له د جال څخه حیرم ابیف صحرا یا اصف مراد دي دا ده سلیمان علیه السلام په زمانه کې د سلیماني هیکل دنهو سترو انجنرانو او ودانۍ جوړوونکو مشر وو چې له پیریانو سره یې اړیکه درلوده دیهودیانو ددیني داستانونوله مخې نعوذب الله ده ته الله تعالي دکایناتودبیا رغوني جادویې راز ښودلي وو ترهغه یې د رازه له اخیستلوورو سته وواژه تا سو دیهودیانو بدمرغۍ ته وګورۍ چې له یو لوري سلیمان علیه ابسلام خپل پیغمبرګنې خو اطاعت یې نه کوي په داسې حال کې چې پرهغه ده جادو دروغجن تهمت هم لګوي اوبل لوري ته حیرم ابیف الهي شخصیت ګڼې په قران کریم کې راغلي والشیطین کل بناءٍ وغواص السورة ص

ژباړه اوشیطانان مو ده هرډول ودانیوجوړوونکې اوغوټه وهونکې تابع کړل په دي ودانۍ جوړوونکو کې یوهم حیرم ابیف وو همدارنګه په بل ایت کې راغلي او موږ سلیمان علیه السلام په ازمېښت کې واچاوو اودهغه پرتخت مویوجسم واچاوو له دي څخه حیرم ابیف مراد دي چې د منسوخ شویو یهودي روایتونو له مخې یې له سلیمان علیه السلام څخه ګوتمه غلا کړه او پر سلیماني تخت واکمن شوي وو دغه اسرائیلي روایتونه زموږ مفسرینو نقل کړي او دایې په سخته رد کړي هم دي قتاد رح رویت کوي چې دعلامه ابن کثیر رح په وینا دیهودیانو له علماوو څخه اخیستل شوي خبري دي سلیمان علیه السلام ته حکم وشو چې بیت المقدس په داسې ترتیب ودان کړې چې ده اوسپني غږ په کې وانه وریدل شي سلیمان علیه السلام سره به ډېرو هلوځلو په دي ونه توانیدو چې دا شرط پوره کړي سلیمان ته یوپیري په اړه معلومه شوه چې ضخرایا اصف نومیده هغه له دي تخنیک څخه خبروو سلیمان علیه السلام اصف راوغوښت چې دملغلرو په وشیله یې دډېرو ماتولو عملیې وښوده په دي طریقه شرط پوره شو له دي وروسته سلیماني هیکل یابیت المقدس اباد شو یوه ورځ سلیمان دغسل کولولپاره روان وو چې خپله ګوتمه یې اصف ته وسپارله دا ډېره پاکه ګوتمه وه اود سلیمان علیه السلام دباچاهۍ مهروو په یو روایت کې دا راغلي چې سلیمان ګوتمه خپلي میرمني ته ورکړه چې بیاتري اصف واخیسته اصف دغه ګوتمه سمندرته وغورځوله اوخپله یې د سلیمان

عليه السلام طرزالعمل ياپيښي شروع کړي خپله څيره يې بدله کړه په دي ترتيب اصف ډېردا سې کارونه پيل کړل چې له هغه سره ښه نه ښکاريده دا د سليمان يو صحابي ملګري وو لکه عمر ض چې درسول الله صحابي دي هغه پر دي شکمن شو چې اصف د سليمان په ښه راڅرګند شوي دي هغه له اصف څخه ازموينه واخيسته دسليمان عليه السلام دي ملګري له اصف څخه پوښتنه وکړه چې اصف يې ځواب دتورات څخه برعکس ورکړله دي وروسته خلګوته معلومه شوه چې دا شخص سليمان پيغمبرنه دي په پاي کې سليمان ترخپل تخت سلطنت واخيست او اصف يې بندي کړ يهوديانو پخپلودا ستانونو کې داسې نااشنا کشې جوړي کړي چې دسليمان توهين اوسپکاوي پکې شوي دي علامه ابن کثيررح فرمايي داهل کتابويهوديانو يوه ډله په دي باورنه لري چې سليمان دا الله تعالي پيغمبردي زيات امکان ددې خبري دي چې دي يهودانودا ډول کيشې او داستانونه وضع کړي وي دحيرم ابيف له مړيني وروسته يهوديان داسې ساينشي تجربې کوي چې هغه پري بيرته را ژوندي کړي خود حديثوله مخې داخبره سمه نه ده ځکه چې دجال مړشوي نه دي بلکې ژوندي دي البته کله چې الله تعالي ورته حکم وکړي نودي پيري ډوله ژوندي وجودته به دفساد خپرولو لپاره خلاصون ورکړل شي تر اوسه پوري هيڅ يو محدث تارخينويا کوم مفسردا خبره نه ده کړي چې دجال دسليماني هيکل په جوړوونکوکې شامل وو بياهغه ووژل شو اوبيا به يې يهوديان را ژوندي کړي اوپاته شوه ديهوديانو کيشې نوهغه هرمسلمان ته معلومه ده چې له ځانه يې جوړي کړي دي .

## امريکا

ځيني په دي اند دي چې امريکادجال دي ځکه چې دجال به يوه سترګه وي او دامريکا هم يوه سترګه ده دامريکا مادي سترګه روغه خو روحاني سترکه يې ړنده ده هغوی مسلمانانوته په يوه سترګه او نامسلمانانوته په بله سترګه ګوري هغوي دګتيې شي ته ګوري که دبل چاپه کې تاوان وي اوکه نه ددوي يې هيڅ پروانشته په امريکا يې ډالرو ديوي سترګي نښه شته چې هغه دجالي سترګه ده په امريکا کې دجالي تهذيب خپل ژوند پيل کړي او دپرمختګ په حال دي او دوي دمادي ځواکونو په وسيله غواړي چې په ټوله نړۍ کې دجالي ځواک قايم کړي ددوي يو ولس مشرچې دبوټانو په خوړلويې مخه ښه وشوه په خپل بيان کې وايي ماته دالله له لوري نبغ په نبغه لارښوونه کيږي العياذب الله دا نبوت ته ورته دعوي ده دا فرعوني لهجه دخدايې دعوي سره مشابه ده او دجال به په اخر کې ددالوهيت دعوي وکړي دجاليت په اصل کې ددروغجن الوهيت دوهم نوم دي اوداسې نور کوم کسان چې دي راي اونظرته ارزښت

ورکوي هغوی په دوه ډوله دي ځيني داسې دي چې له هغوی سره داحاديثوعلم نشته هغوی په دي اړه يدنظر نه لري چې دا ډول خلګ معذوردي ځيني يې داسې دي چې په قصدي توګه ديوځانګړې هدف لکه ديهوديت دخدمت اودمسلمانانوله دجالي فتني څخه ناخبره ساتل او دجال لپاره ده لاري مساعدولودا سې چاري پرمخ وړي ځکه چې په حديث کې راغلي چې له د جال اکبرڅخه مخکې به ديرش واړه د جالان راووځي په بل حديث کې داسې راغلي چې دوړود جالانوشميربه له اوياڅخه زيات وي دواړه خبري اوشميرپخپل ځاي سم دي لومړي به ديرش دجاله وي دوهم قسم به يې له اوياووڅخه زيات وي څوک چې احاديثوته په سرسري نظرهم وګوري نوهغوی پردي خبره پوهيږي چې دجال کوم هيوادنه دي بلکې يوټاکلي شخص دي چې دانسانانودازمېښت لپاره ورته غيرمعمولي صلاحيتونواوځواکونو ورکړل شوي دي خودا ځواکونه به دناسم مقصدلپاره استعماليږي مولوي ابوالحسن ندوي رح ددجال او د جاليت په اړه کتاب معركة ايمان و ماديت په 135مخ مي ليکلي په کوموا حاديثوکې چې ددجال يادونه شوي او دهغه ځانګړتياوي او نښې په کې بيان شوي هغه دمعنوي تواترترحده پورې ررسېدلي دي په هغي کې داخبره په ډاګه ښکاري چې دجال به يوټاکلي شخص وي چې ټاکلي علامې به لري هغه به په يوه ټاکلي وخت راڅرګندشي دجال به يوټاکلي قوم کې راڅرګندشي چې هغه يهوديان دي له دي ضرورت په احاديثو کې ددې تعين هم شوي دي چې هغه به په فلسطين کې راڅرګند شي اوهلته به غلبه ترلاسه کړي په همدې اساس فلسطين هغه سيمه ده چې هلته به دايمان اوماديت پرستانوحق اوباطل ترمنځ خونړۍ جګړه روانه شي.که دي عبارت ته لږنظروکړونودمضمون په پيل کې چې کومي دري پوښتني وي دهغي ځوابونه په لاس راځي يعني دجال څوک دي چيرته دي اوکله به راڅرګندشي لنډ داچې په دي کې شک نشته چې امريکادجالي ځانګړتياوي لري خوهغه دجال نه دي دجال به يومخصوص شخس وي چې له احاديثوڅخه يې داسې شکل اوصورت معلوميږي هغه دجال کاذب مسيح به ځوان سړي وي وېښتان به يې واړه او کروړي وي اويه يوه سترګه به ړوندوي رسول الله ﷺ يوځل خوب وليده چې دکعبې طواف کوي اوپه دي دوران کې ورته دجال وښودل شو رسول الله فرمايي هغه دروندبدن سوررنګ کروړي وېښتان اويوي ړندي سترګي خاوندوو سترګي يې دراځوړندشوي انګورپه شان وو دهغه پرتندي دکافرکلمه ليکل شوي وه اوهرمومين به يې لو ستلاي شي دجال دجناتي پيري ډوله ځواکونه مشري کوي چې نيم انسانان اونيم پيري دي اواز مېښتي مخلوق دي.جابربن عبدالله ض وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل مسلمانان به دشام

دخان غره په لوري منډې وهي او دجال به يې هلته کلابند کړي دا کلابندي به ډېره سخته شي اومسلمانان به په ستونزوکې واچوي وروسته به سهارمهال عيسى عليه السلام راکوزشي له اسمانه اومسلمانانوته به فرمايي دهغه خبيث دروغجن لورته تګ کوم شي منع کړي ياست مسلمانان به ورته ووايي چې دغه شخص پيري دي اومقابله يې سخت کاردي دري ضمني ياځنګيزي پوښتني لومړۍ پوښتنه داده چې دجال څوک دي ددې ترځنګ ځيني پوښتني شته مخکې له دې چې داپوښتني ځواب نه کړو دوهمي يادريمي پوښتني ته نه شو ورتلي هغه پوښتني په لاندې ډول دي دجال به دکوم شي دعوت اوبلنه کوي ياپه بل عبارت دهغه فتنه به څه ډول وي ددجال منونکوپيروان اوملګري به څوک وي له هغه سره به کوم قوتونه اوڅه ډول قوتونه وي دغه پوښتني موږپه لاندي دريوعنوانونوکې تشريح کوو.

## دجالي مذهب

دجال ديونوي مذهب دعوت کوي ديودا سې نوي مذهب بلنه چې لومړي به په کې دنبوت دعوه وکړي اوبيابه يې دعوي ترخدا ياوبه ورسيږي العياذب الله ددې بدبخته سخته فتنه همداده چې الله تعالي ج ورته دکوم شي واک ورکړي هغه به دخيرپرځاي په فسادکې ولګوي اوسترطوفان به راپيدا کړي په حديث کې راغلي چې دادم له پيدا ايشته بياترقيامته پورې ددجال له فتني څخه ستره فتنه نشته دامذهب به دفري ميسنري خفيې مذهب وي دابه په هغونظرياتو مشتميل وي چې له دجال څخه دده مخکني تنظيم فري ميسن ايجادکړي وو اوبياورو وروڼۍ قبول کړدفرميسن ټول کارکوونکي په دې نظردي چې دايواځني خفيې تنظيم دي چې دمذهب دنوم له اخيستلوپرته خلګوکې ساتي فري ميسنري روحاني مذهب نه بلکې شيطاني مذهب دي چې اصلي هدف يې دادي يواځې ديومذهب اجازه به ورکړل شي چې دنړيوالي کليساپه شکل به رامنځ ته شي او داپه 1920زيږديزکال رامنځته شوي ده کله چې دجال راڅرګندشي نودابه نه وايي چې زه دجال يم اونه به دنوي مذهب دعوي کوي هغه به دانسانيت دعوي کوي يهوديان به دغه دروغجن مسيحايوستردرمند خيرخوا اوغم شريکه به نوم خلګوته ورمعرفي کړي خلګ به پري باوروکړي ځکه خلګوته به دجالي مذهب اصطلاحګاني ورښودل سوي وي دوي به تري مجبورهم نه وي بلکې له دوي څخه به اغيزمن شي اودهغه پرلوربه روان شي رسول الله ﷺ فرمايي څوک چې دجال څخه خبرشي نوله هغه څخه دې لرې او شي پرالله قسم يو سړي به ځان ته مومين وايي بيابه هم دهغه طرف ته ورځي اوبيابه دهغه دپيدا کړوشبهووپيروي هم وکړي دجال ملګري رسول الله ﷺ فرمايي ددجال زياتره

پیروان به یهودیان اوښځي وي دلته یوه پوښتنه راولاړیږي اوهغه داچې دیهودیانو شمیرخوډېردي سره له دي چې دجال ځنګه دخپل مذهب نړیوال کولولپاره هلي ځلي وکړې ددې ځواب داده چې یهودبه له نوروخلګوسره دوکې اودرغلي وکړي اوله دي لاري به صهیونستان هم له ځان سره ملګري کړي صهیوني هغه شخص ته ویل کیږي چې یهودي وي اوکنه وي خودیهودیانودموخي دلاس ته راوړلولپاره دیېرډیانودلاس اله وګرځي دیهودانو په فریب کې به هغه عسویان هم هندوان اومسلمانان ولویږي چې ځان به ددجال له فتني څخه نشي ژغورلي اودهغه په دام کې به راګیرشي امریکااو اروپایي هیوادونه دیهودیانو په شکنجه کې لویدلي دي هغوی له یهودیانوډېراسرائیلوملاتړدي اودغه حمایت دخپل برکت لامل ګڼي دیهودیانومکراو فریب ته وګوری چې په عسویت کې کومي نښي دعیسي علیه السلام په اړه راغلي یهودیان یې پردجال تطبیقوي اوبیاعسویانو سره په دي درغلي کوي چې موږدمسیح موعودپه طمعه یو اومسلمانان ددې مخالف دي په داسې حال کې چې مسلمانان دعیسی علیه السلام اویهودیانوددجال اکبرپه طمعه دي چې دابه دعیسي علیه السلام مسلمانانومجاهدینواونوي مسلمان شویوعسویانو په مرسته ووژل شي یهودان خودعسویانواوددوي دپیغمبردشمنان دي دوي عیسی علیه السلام وځړاوو اوپه پاي کی یې په دارځړولوپلان هم ورته جوړکړ په داسې حال چې مسلمانان نن هم دعیسي علیه السلام درناوي کوي اوله پخواڅخه یې هم کاوه او په راتلونکې کې به بیاهم دهغه په ملتیادهغه له دشمنانوسره ستره خونړی جګړه وکړي په نړۍ کې عسویان ځومره ساده قوم دي چې دخپل پیغمبرله دشمنانوسره ملګرتیاکوي اوپه بدل کې یې له هغوخلګوڅخه کرکه کوي چې ددوي له پیغمبرسره مینه ساتي دهندوستان له اسرائیلوسره ملګرتیاله هیچاپټه نه ده څه موده مخکې کله چې امریکاخلایي هییت کولمبیادځمکي مدارته په دي څلورامریکایان دري اسرائیل اویوه هیندوستانی میرمن شامله وه دابلیشي تګلارې دا مثلث امریکااسرائیل اوهندوستان دفضاله تسخیراوتابع کولو وروسته دخلادتسخیرولواراده درلوده پاته شوه دجالي مسلمانان اودابه هغه کسان وي چې دفکري استعماراو فکر ارتدادله لاري ددجال ملګري شوي وي دابه هغه خلګ وي چې له مسلمانی سره به نه په حلالواونه په حرامو وې بلکې خوري به یې خپل ژوندبه په عیش عشرت تېروي اودخپل دین هیڅ پروابه نه کوي.

## ددجال راڅرګندیدومخکې ممکن دوه صورتــونه

